PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اوونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوه، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډیر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکې او ښه لیدونکې دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۳۹ مه ګڼه، پرله پسې ۲۳۸ مه ګڼه   سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د سلواغې ۱۴ مه   د ۱۴۳۵ هـ ق د ربیع الثانی ۴ مه   د ۲۰۱۴ م د فبروری ۴ مه

«به یاد داشته باشید آن خطی که با خون سرخ شهدا ترسیم شده است این خط همیشه روشن باقی مانده و به ادامه دهنده راه این شهدا خواهد بود. تیمی را که احزاب متعدد مثل جمعیت اسلامی، وحدت اسلامی، حزب اسلامی و بقیه احزاب که درائتلاف حضور دارند این ها برادرم داکتر عبدالله را به عنوان کاندیدای خود در انتخابات ۱۳۹۳ ریاست جمهوری برگزیده اند. یک ائتلاف افغانستان شمول و همه اقوام شمول به وجود آمده است که این به صورت آنی و از روی احساسات تشکیل نگردیده بلکه با فکر و درنگ و بعد از رای زنی های فکری زیاد به وجود آمده است.»

(از سخنان انجنیر محمدخان)

داکتر عبدالله عبدالله :

کشور به اصلاحات و همگرایی نیاز دارد

"از کمیسیون مستقل انتخابات، حکومت وخارجی ها می خواهیم که اعتماد مردم را بر انتخابات از بین نبرده و بگذارند که مردم به خواست خود به نامزد مورد علاقه خود رای بدهند تا قدرت به شکل مسالمت آمیز انتقال یابد که این کار؛ به نفع جامعه جهانی، منطقه و کشور میباشد" (انجنیر محمدخان)

کابل، پژواک:
تیم انتخاباتی داکتر عبدالله نامزد ریاست جمهوری، تطبیق همسان قانون، تامین امنیت، حکومتداری خوب و مبارزه جدی با فساد را، از برنامه های مهم خود عنوان کرد.
روز یکشنبه (۱۳ دلو) رسماً مبارزات انتخاباتی نامزدان ریاست جمهوری آغاز گردید و قرار است که این مبارزات، تا دو روز قبل از تدویر انتخابات(۱۶حمل ۱۳۹۳) ادامه یابد.
داکتر عبدالله عبدالله با آغاز مبارزات انتخاباتی در اولین همایش مردمی، با اشتراک هزاران تن در کابل صحبت میکرد، گفت که تیم انتخاباتی وی، در عرصه های مختلف برنامه های جامع دارد و برعملی نمودن آن متعهد است.
وی تطبیق قانون به شکل یکسان، تامین امنیت، حکومت داری خوب، مبارزه جدی با فساداداری، ریشه کن نمودن فقر، مساعدنمودن زمینه کار... (۴ مخ)

حقمل :

ډېر تړل شوي ښوونځي بېرته پرانیستل شوي دي

د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت وايي چې له څو کلونه راهیسې د ۱۲۰۰ تړل شوو ښوونځیو شمېر اوس ۳۸۰ ته راکښته شوی دی. د وزارت د چارواکو په وینا په دې برخه کې لا هم هڅې ادامه لري.
په زابل، ارزګان، هلمند او کندهار ولایتونو کې د تړل شوو ښوونځیو شمېر تر ټولو زیات دی. د ښوونې او روزنې وزارت چارواکي وايي چې د دغو ولایتونو له مخورو سره د ښوونځیو د بیرته پرانیستلو په اړه کار کوي.
د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت ویاند محمد کبیر حقمل،... (۴ مخ)

سپنتا ګمارل شوې څو له ناټو سره د "تړون" خبره نهايي کړي

کابل، رسنۍ:
افغان حکومت له ناټو سره د امنیتي همکاریو د موافقې په تړون کې د اختلافي ټکو د حل په مقصد خبرو ته دوام ورکوي.
په دې اړه تېره ورځ د افغانستان د ملي امنیت شورا په غونډه کې بحث وشو. په غونډه کې د ملي امنیت مشاوریت ته دنده وسپارل شوه چې له ناټو سره په دې اړه خبرې نهايي کړي.
افغان حکومت وايي، چې له ناټو سره د امنیتي همکاریو د موافقې په تړون کې د اختلافي ټکو د حل په مقصد خبرو ته به دوام ورکړي.
د امنیتي همکاریو تړون له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د ناټو په مشرۍ د نړیوالو ځواکونو قانوني حضور ته لاره پرانیزي.
د جمهوري ریاست د اطلاعاتو او رسنیو د ځانګې مشر وايي، چې په تېره ورځ غونډه کې د ولسمشر د ملي امنیت سلاکار رنګین دادفر سپنتا له ناټو سره ... (۴ مخ)

آغاز کمپاین انتخاباتی؛ تشویشها و مسؤولیتها

فدا محمد فایض

نقش عمدهٔ روشنگری را همین رسانه ها دارند، اگر رسانه ها آنچنان که وظیفهٔ شان است عمل کنند مشعلی بدست فرد فرد ملت خواهند داد تا در روز انتخابات قبل از آن که به پای صندوق های رأی بروند به اهمیت رأی خود پی خواهند برد و خواهند دانست که حتی یک رأی هم در تعیین سرنوشت ملت تأثیر خود را دارد. اگر مردم ما با همین احساس به پای صندوقهای رأی بروند نتایج انتخابات شفاف و از هر ناحیه پذیرفتنی خواهد بود.

(ص، ۲)

شیکاګو ټریبیون:

په افغانستان کې زموږ په اوبو لاهو شوې هڅې!

واشنګټن پوست ورځپاڼه، په افغانستان کې انتخاباتي مبارزه له امنیتي اندېښنو سره پیل شوه، تر سرلیک لاندې په یوه مطلب کې لیکي، که دغه انتخابات بریالي ترسره شي، دا به د افغانستان په تاریخ کې لومړی ځل وي چې قدرت د خلکو د رایو له لارې په سوله ییزډول لیږدول کیږي.
د ورځپاڼې په وینا راتلونکې انتخابات دغه راز د هغو د پارلسو کلونو پرمختګونو لپاره هم ډېر مهم دي چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ له نسکوریدو راپدیخوا په دې هیواد کې شوي دي. (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د هېواد ولسمشر ټاکل تر ټولو ستر مسؤولیت دی

د شکر ځای دی چې د افغانستان مسلمان ولس د خپل هېواد د راتلونکی زعیم د ټاکلو لپاره بشپړ واک لري او پخپله خوښه کولای شي خپل راتلونکی ولسمشر د خپلو رایو له لارې منتخب کړي. که خیر وي ان شاء الله تعالی د راتلونکي کال د وري پر شپاړسمه به د افغانستان په ټولو ولایتونو او ولسوالیو کې ټولټاکنې ترسره کېږي، تر دوه میاشتې پورې به انتخاباتي کمپاینونه پرمخ وړل کېږي. او هر کاندید به د ولس پر وړاندې د خپل منشور غټ غټ ټکي او برنامه وړاندې کوي. د وري تر شپاړسمی د افغانستان هر رأی ورکوونکي ته فرصت ورکول شوی چې د کاندیدانو د شخصیت په اړه ښه ژور غور او فکر وکړي: دهغوی ماضي او حال وڅېړي، د هر چا پوهې، زکاوت، متانت، اخلاص، ایثار، تقوی، وفاداري، دیانت، استقلال او جرئت ته وګوري او بیا په پوره ایمانداری د خپلې رأیې د استعمالولو پرېکړه وکړي.

څومره کاندیدان چې د ولسمشرۍ ټاکنو ته ولاړ دي ټول افغانان دي او هر یو پخپل ځای دعوه لري چې تر ټولو مستحق شخص همغه دی؛ خو دا حق په سلو کې سل د افغانستان وګړو ته ورکول شوی چې د راتلونکې ولسمشرۍ لپاره څوک غوره کوي او چاته د فضیلت پګړۍ ورپه سر وي؟! په حقیقت کې دا ټولټاکنې د افغانستان د مسلمان ولس پر وړاندې د خپل ژوند ستر ایماني او افغاني ازمیښت دی او هر سړی د خپل رب، هېواد، استقلال او اولادو په وړاندې مسؤول دی چې په دغو ټولټاکنو کې داسې یو شخص ته رایه ورکړي چې هغه په ټوله معنا د افغانستان د مسلمان ولس همدرد او وفادار وي.

موږ افغانان اصلاً تر پنځو کلونو پورې د خپل هېواد د برخلیک د ټاکلو رأی ورکوو. پدې کې د ولسمشرۍ لپاره له ولاړو کاندیدانو نه زیات مسؤولیت رأی ورکوونکو ته متوجه دی.

ځکه چې دهغوی په ټاکلو کې محوري نقش د افغانستان د وګړو د رایو دی او همدا زموږ رایې به وي چې له هغوی نه به یو شخص اقتدار ته رسېږي. که موږ واقعاً یو مخلص، همدرد، وفادار، امین، متدین، زیرک، با احساسه او ایمانداره شخص خپل راتلونکی ولسمشر وټاکو؛ نو موږ به د الله په وړاندې هم خپل ایماني او افغاني مسؤولیت ترسره کړې وي. او د ولس په وړاندې هم: خو که الله مه کړه د خپلې رایې قدر او قیمت مو ونه پېژاند او د موقتي ګټو او جذباتو له مخې مو یو داسې شخص د اقتدار پر ګدۍ کښیناوه چې د ولسمشرۍ له اهلیت نه عاري وي: نو له څه شک پرته به مو خپلې پښې او لاسونه پخپله په تبر وهلې وي. فلهذا دا دوه میاشتې هر افغان ته د زیات غور او فکر ورځې دي. د وري تر شپاړسمې پورې دې، هر رأی ورکوونکی له خپل ضمیر سره دا فیصله وکړي چې خپله رایه به صرف او صرف هغه چاته ورکوي چې له خپل دین، هېواد او ولس سره مینه لرووںکی او د هېواد دوه میلیونه شهیدانو د ارمانونو ته تحقق ورکوونکی وي.

له څه شک پرته په افغانستان کې یو داسې مثبت انقلاب او بدلون ته اړتیا لیدل کېږي چې هر چیرته د فساد جرړې ختمې او په هره اداره کې د شفافیت فضا حاکمه شي. د قانون حاکمیت برلاسی او د حکومت ټول چارواکي د قانون په وړاندې یو برابر مسؤولیت او حیثیت ولري، د افغانستان هر فرد ته دهغه په کور کې ارزانه انصاف ورسېږي، د حکومت په چوکاټ کې داسې یو سیستم رائج کړی شي چې یو څوک کاغذ په لاس در په در د ګرځېدو پرځای خپل حقوق په آسانۍ ترلاسه کړي، خو دا ټول کارونه هله ترسره کېدلې شي چې د افغانستان ولس د خپل هېواد لپاره یو ایمانداره او دیانتداره قیادت غوره کړي؛ ځکه چې یو غوره او سالم قیادت د خپل ولس په سالمې رهبرۍ کې رغنده او ټاکونکی رول لري. له همدې لامله د کائناتو پالونکي ذات موږ ټولو ته په ښکاره ډول امر کوي چې تاسې د خپلو چارو واکې هغه چاته وسپارئ چې دهغوی د ترسره کولو اهلیت ولري. د هېواد زعیم او ولسمشر ټاکل تر ټولو لوی امانت او لوی مسؤولیت دی، نه ښایي خپلې رایې ته په کمه سترګه وکتل شي؛ بلکې هر رأی ورکوونکی ته پکار دي چې د الله د حکم په منلو سره د هېواد د راتلونکی زعیم د ټاکلو په وخت کې داسې یو چاته رایه ورکړي چې هغه په واقعي معنی د افغانستان خدمتګار او خیر غوښتونکی وي خپل ټول عمر یې د افغانستان په تودو سړو کې تیر کړی وي او د افغانستان له بنیادي ستونزو څخه باخبره وي، نه دا چې خپله قیمتي او برخلیک ټاکونکی رایه داسې چاته ورکړي چې د موسمي مرزانو په څېر له امریکا او اروپا نه افغانستان ته راغلي او دلته څو کاله له اقتداره د خوند اخیستلو وروسته ډکه څولۍ بیرته امریکا او اروپا ته ستنېږي.

فدا محمد فایض

آغاز کمپاین انتخاباتی؛ تشویشها و مسؤولیتها

روز یکشنبه مؤرخ ۱۳ / ۱۱ / ۱۳۹۲ کمپاین انتخاباتی ریاست جمهوری رسماً آغاز گشت و هر کاندید با هواداران خود در صفحات تلویزیونهای کشور بنظر میرسید. امید است کمپاین هم در فضای امن به پایان برسد و انتخابات هم در یک فضای امن و آرامش بدون مداخلات صورت بگیرد. این یک آرزوست و آنرا بخیر ملت می دانیم؛ زیرا اگر انتخابات در فضای امن و بدون تقلب و مداخلات صورت بپذیرد شکی نیست که نتایج آنرا هم بازندگان با سعهٔ صدر خواهند پذیرفت.

ما در دو دوره‌های گذشته دیدیم که در سال ۲۰۰۴ مردم با شوق و علاقه مندی به پای صندوقهای رأی رفتند و به کاندیدای مورد نظر خود رأی دادند. در آن دوره هیچ کاندیدای بازنده بر نتایج انتخابات انتقاد نکرد و همگان نتایج را پذیرفتند و بلکه در حکومت بعدی به همکاری هم پرداختند؛ اما در انتخابات ۲۰۰۹ صدای تقلب بلند شد که این امر سر و صداهایی را ایجاد کرد و جامعهٔ به اصطلاح جهانی مستقر در افغانستان هم به آن بیشتر دامن زد که سعی و تلاش آن، بی اعتبار ساختن انتخابات بود، چنانچه اکنون خیلی از حقایق از سوی خود آنها افشا میگردد. دعای ما این است که ما از گذشته ها آموخته باشیم و سعی شود که یک فرهنگ پذیرش در کشور ما نهادینه شود. برندگان انتخابات نباید بپذیرند که در یک مصاف با دشمن، دشمن را شکست داده است و با آنها از در کبر و نخوت رفتار کنند و آنهائی که انتخابات را باخته اند با آنکه شکست واقعاً تلخ است؛ ولی نباید فکر کنند که از دست یک دشمن شکست خورده اند، و نباید بنحوی به انتقام گیری بپردازند. وجود اپوزیسیون نباید رنگ و رخ دشمنانه را بخود بگیرد. بلکه اپوزیسیون باید یک همکار خوب دولت باشد و دولت هم باید آنرا بحیث یک همکار خوب بپذیرد. در اینجا علاوه بر آنچه گفته آمد، چند نکته قابل تذکر است:

مسألهٔ امنیت:

با آنکه ارگانهای امنیتی بصورت مکرر از ناحیهٔ امنیت اطمینان میدهند و وزارت داخله یک ابتکار خوبی را بخرج داده است که برای هر تیم انتخاباتی سه عراده موتر زرهی تدارک دیده است و ضمناً از خود کاندیداها خواسته است افراد امنیتی خود را به وزارت داخله معرفی کنند؛ ولی تنها همین اقدام کافی نخواهد بود. باید وزارت داخله و امنیت ملی درین راستا اقدامات دیگری را هم روی دست داشته باشند که مسلماً داشته خواهند بود.

واقعه یی که یک روز قبل از آغاز کمپاین رسمی در هرات صورت گرفت و باعث بشهادت رسیدن دو نفر از کمپاینران تیم مربوط به داکتر عبدالله عبدالله شد واقعاً خیلی دردآور بود. آنچنان که شورای امنیت ملی به وزارت داخله و ریاست عمومی امنیت ملی وظیفه داد، باید این مسأله بصورت جدی پیگیری شود. عاملان این حادثهٔ خونین و دلخراش شناسایی شده، گرفتار و به پنجهٔ قانون سپرده شوند. اگر این مسأله بدرستی پیگیری نشود و عاملان اصلی قضیه شناسایی نگردند، نتایج زیانباری خواهد داشت؛ زیرا شکها و گمانهایی بوجود خواهد آمد که این کار را شاید فلان تیم انتخاباتی انجام داده باشد. رقابت انتخاباتی یک امر مسلم است؛ اما این رقابت نباید بگونه یی باشد که باعث قتل و قتال گردد. چه چنین حرکات غیر اسلامی و غیر ملی وغیر قانونی روند انتخابات شفاف، عادلانه و بدون مداخله را مختل میسازد. تا فعلاً دانسته نشد که حادثهٔ هرات از سوی دشمنان صلح و ثبات کشور صورت گرفت، دستهای مغرض بیرون در آن دخیل بود و یا هم نتیجهٔ یک رقابت ناسالم انتخاباتی بود. دولت نباید بر یخ بنویسد و در آفتاب بگذارد؛ زیرا در گذشته خیلی وقایعی ازین قماش دقیقاً پیگیری نشد و عاملین اصلی قضیه شناسایی نگردید، اگر گردید دولت، ملت را در جریان نگذاشت؛ شخصیتهای بزرگی مانند استادربانی شهید، استاد عبدالصبور فرید شهید، مولوی ارسلا رحمانی شهید و امثال آنها ترور شدند؛ ولی ملت ندانست چه دست یا دستهایی در عقب قضایای مذکور وجود داشت.

نقش رسانه ها:

رسانه ها خواه مربوط به هر گروه و هر جناحی باشند؛ ولی وظیفه دارند در مورد انعکاس کمپاین انتخاباتی «ملی» عمل کنند، چنان برنامه هایی بریزند که پیامها و فعالیتهای تمام کاندیداها یکسان انعکاس یابد. بنده خود به حیث یک فرد خانوادهٔ بزرگ مطبوعات به این باور هستم که اگر رسانه ها درین راستا ملی عمل کنند، ملت در جریان کمپاین دوماهه خوبتر میتواند قضاوت کند که چه کسی دارای یک برنامهٔ خوب برای فردای کشور است. ما نیاز داریم تا این مسأله هم در کشور ما جایگاه خود را بیابد و بالاخره نهادینه شود که مردم بجای آنکه به افراد رأی بدهند به برنامه ها رأی بدهند. درست است که جامعهٔ ما عقب مانده و سنتی است. روابط ما بیشتر بر ارتباطات قومی، حزبی، خویشاوندی، سمتی وغیره استوار است؛ ولی این روابط بشیوهٔ ناسالم آن نباید تا قیام قیامت همچنین بماند. من می بینم که بیشتر قشر تعلیم یافته و قشر روشنفکر بمعنای واقعی کلمه از آن روابط ناسالم در حال عبور هستند و باید هم، چنین باشد.

نقش عمدهٔ روشنگری را همین رسانه ها دارند. اگر رسانه ها آنچنان که وظیفهٔ شان است عمل کنند مشعلی بدست فرد فرد ملت خواهند داد تا در روز انتخابات قبل از آن که به پای صندوق های رأی بروند به اهمیت رأی خود پی خواهند برد و خواهند دانست که حتی یک رأی هم در تعیین سرنوشت ملت تأثیر خود را دارد. اگر مردم ما با همین احساس به پای صندوقهای رأی بروند نتایج انتخابات شفاف و از هر ناحیه پذیرفتنی خواهد بود.

بی طرفی دولت:

با آنکه رئیس جمهور حامد کرزی بارها گفته است که در انتخابات از هیچ جناحی حمایت نمیکند؛ ولی تنها همین وعدهٔ شفاهی پذیرفتنی و قابل اعتماد نخواهد بود، وقتی او به کنفرانس شانگهای رفت، حین ملاقات به ولادیمیر پوتین رئیس جمهور فدراتیف روسیه گفت که شاید رئیس جمهور آیندهٔ افغانستان در همین مجلس حضور داشته باشد، این تشویش از همان روز که هنوز فرصتی برای کاندیداتوری رسمی باقی مانده بود، در مطبوعات کشور خیلی مورد بحث قرار گرفت. دولت آنچنان که وظیفه دارد در تأمین امنیت سعی بلیغ بخرج دهد، وظیفه دارد بی طرفی خود را آنچنان که تعهد سپرده است، حفظ نماید. اگر دولت مداخله کند، این مداخله پنهان نمیماند و طبعاً صدای اعتراض بلند میشود. ما در انتخابات ولسی جرگهٔ دور شانزدهم دیدیم که صدای اعتراضات از هر سو بلند شد، تظاهرات گسترده صورت گرفت؛ ولی آنچنان که لازم بود به شکایات آنها رسیدگی نشد. درست است که ممکن همه شکایت کنندگان حق بجانب نبودند؛ ولی حتماً یکعده حق بجانب بودند که به قناعت آنها پرداخته نشد.

اکنون که از یکسو قوای خارجی قرار است طبق فیصلهٔ سال ۲۰۱۱ بروکسل افغانستان را ترک بگویند و از سوی دیگر مناسبات دولت و این قوا بر سر قرارداد امنیتی باامریکا بگونه‌یی صدمه دیده است؛ باید دولت خیلی محتاطانه قدم بردارد، تا نشود کشور شاهد درگیریهای داخلی آنچنان که تبلیغ میشود، باشد و فاجعهٔ دیگری بر فجایع گذشته افزوده شود.

نقش جامعهٔ جهانی:

میدانیم که جامعهٔ جهانی بخاطر تعقیب اهداف استراتیژیک خود در منطقه به افغانستان آمده است و آنچنان که خود اعتراف میکند ادامهٔ جنگ و نا امنی در کشور ما از نیازمندیهای آن بحساب میرود، طبیعی است که بنحوی تلاش خواهد کرد که در انتخابات از راه های مختلف مداخله کند و نتایج انتخابات را بنفع خود تغییر دهد، چنانچه اندرس فوگ راسموسن منشی عمومی ناتو گفته است کسی رئیس جمهور آیندهٔ افغانستان خواهد بود که قرارداد امنیتی را با امریکا امضا خواهد کرد، چنین اظهارات از چنین یک مقام بلندپایه پیام واضح و روشنی دارد، بناء این وظیفه دولت افغانستان است تا جایی که برایش مقدور است جلو مداخلات بیرونی را هم بگیرد، هکذا کشورهای همسایه نیز حتماً بنحوی مداخلات خود را خواهند داشت؛ ولی جلوگیری این مداخلات در پهلوی آنکه مسؤولیت افراد ملت هم است و بخصوص از کاندیداها و تیم انتخاباتی شان ولی اساساً وظیفه دولت است که باید جلو این مداخلات احتمالی را بگیرد، تا در آینده دولتی داشته باشیم که بتواند با چالشهای موجود دست و پنجه نرم کند.

ټولټاکنې د اسلام له نظره

محمد خلیل



الله تعالی پر مسلمانانو ټولنیز او اجتماعي ژوند لازم کړی او فرمایلی یې دي چې:

ژباړه: ((تاسې ټول د الله پر دین کلک منګولې ولګوئ او تفرقه مه کوئ.)) (آل عمران: ۱۰۳)

له پورتني آیت شریف نه دا ترلاسه کېږي چې الله تعالی مسلمانانو ته د اتفاق او ټولنیز ژوند تیرولو امر کړی دی.

په اسلام کې دوه ډوله اوامر دي یو هغه چې په یوازې ځان ترسره کېږي او بل هغه چې په اجتماعي او ټولنیزه توګه ترسره کېږي. همدې واقعیت ته په کتلو سره حضرت عمر (رضی الله عنه) فرمایلی دي:

((لا اسلام الا بالجماعة ولا جماعة الا بالامارة ولا امارة الا بالطاعة))

ژباړه: ((له ډلې او جماعت پرته اسلام نشته او له امارت پرته ډله نشته او له اطاعت پرته امارت نشته.))

له پورتنیو لارښوونو څخه دا څرګنده شوه چې د مسلمانانو لپاره امیر یا زعیم ټاکل خورا اړین دی چې په اوسني زمانه کې ورته ولسمشر یا جمهور رئیس ویل کېږي.

د اسلام له نظره د امیر یا ولسمشر ټاکل د مسلمانانو له مهمو مسؤولیتونو څخه یو دی؛ ځکه چې بې امیره ټولنه نشي کولې خپل یووالی او بقا وساتي. په اسلام کې د امیر ضرورت دومره مهم ښودل شوی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ان هغو دریو مسلمانو ته هم د امیر د ټاکلو امر کړی دی چې په سفر روان وي، او فرمایلی یې دي چې کله درې تنه مسلمانان د مسافرۍ نیت وکړي؛ نو یو دی ترینه خپل امیر مقرر کړي. (ابو داود)

همداراز له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه عبدالله بن عمر روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه درې کسان چې په صحرا کې اوسېږي هغوی ته روا نه ده چې له امیر پرته ژوند تېر کړي؛ بلکې له هغو نه دې یو کس خپل امیر مقرر کړي.

امام ابن تیمیه پخپل کتاب (السیاسة الشرعیة) کې لیکي:

باید په دې خبره ځان پوه کړو چې امارت او د خلکو د چارو اداره کول د اسلام د سپیڅلي دین له لویو واجباتو څخه شمېرل کېږي.

څرنګه چې د یو هېواد مسلمانو اوسېدونکو ته د امیر یا ولسمشر ټاکل د اسلام د سپیڅلي دین د اوامرو له مخې ضروري دي؛ نو دا هم ضروري ده چې د هغه په ټاکلو او غوره کولو کې د الله تعالی حکم: ((إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا)) (سوره النساء: ۵۸) پخپل ذهن کې وساتي او داسې یو څوک دې غوره کړي چې کومې چارې ورته سپارل کېږي دهغو د ادا کولو اهلیت ولري.

په پخوانیو وختونو کې د انتخاب یا د رأی د ښکاره کولو طریقه په لاس سره بیعت کول و؛ خو په اوسني وخت کې د بیعت شکل د رأی کاغذ دی چې په صندوق کې اچول کېږي.

څنګه چې د بیعت لپاره لاس ورکول اصل مقصد نه دی بلکې اصل مقصد د اعتماد او باور ښکاره کول دي؛ نو په همدې توګه د رأی کاغذ هم پخپل ځای کوم مقصد نه دی چې ثبوت یې د قرآن او سنتو له لارې ضرور شي، بلکې دا پخپله د اعتماد د ښکاره کولو ذریعه ده، څرګنده ده چې د مقصد د لاسته راوړلو لپاره مختلفې ذرایع استعمالیدی شي او همداراز د عرف او عاداتو د بدلون په صورت کې بدلیدلای هم شي.

مشهور عالم مولانا ګوهر رحمن پخپل یو مشهور کتاب اسلامي سیاست کې لیکي:

د آیت شریف: ((وامرهم شوری بینهم)) تر حکم لاندې دا هم راځي چې د مسلمانانو خلیفه دې منتخب وي او دهغه د دولت ټول نظام دې هم شورایي وي.

حضرت عمر رضی الله عنه فرمایلی دي چې:

((من تأمر منکم غیر مشورة من المسلمین فاقتلوه))

ژباړه: څوک چې د مسلمانانو له مشورې (انتخاب) پرته امیر شو هغه قتل کړئ. (المصنف عبدالرزاق، ۵ ټوک، ۴۸۱ مخ)

په یو بل روایت کې د عمر رضی الله عنه وینا داسې رانقل شوی: چا چې د مسلمانانو د شورې پرته چاته د حکومت د منلو بلنه ورکړه؛ نو دا بلنه او حکومت یې حلال نه دی. (فتح الباري، ۱۵ ټوک، ۱۴۰ مخ)

محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي چې پر شپږ ډوله خلکو زه هم لعنت وایم او الله جل جلاله هم ورباندې لعنت وایي. له هغوی څخه یو هغه دی چې په زوره په حکومت قبضه کوي. (مشکواة، باب الایمان بالقدر)

ابو موسی اشعري رضی الله عنه فرمایي:

ژباړه: امارت هغه حکومت دی چې په مشوره جوړ شوی وي او بادشاهت هغه دی چې د توري په زور بې لاس ته راوړی وي. (طبقات ابن سعد، ۴ ټوک، ۱۳ مخ)

د پورتنیو لارښوونو څخه دا په ډاګه کېږي چې په اسلام کې د خلیفه د ټاکلو طریقه بیعت او انتخاب دی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له رحلت نه وروسته حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هم د عمومي بیعت له لارې د خلیفه په توګه غوره شوی و، لکه چې په بخاري شریف کې راغلي دي:

د بنو ساعده په چوتره کې د انصارو او مهاجرینو ترمنځ د خلیفه د ټاکلو لپاره په ډېره آزاده توګه بحث وشو، خو د عمر رضی الله عنه د پیشنهاد په اساس د مدینې خلکو په خپلو خوښه او رضا ابوبکر صدیق رضی الله عنه غوره او دهغه په لاس یې بیعت وکړ. (صحیح بخاري المناقب، ۱ ټوک، ۵۱۸ مخ)

په یو بل روایت کې داسې راغلي دي چې لومړی مهاجرینو ورسره بیعت وکړ او بیا انصارو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له رحلت نه وروسته د حضرت عمر رضی الله عنه ټاکنه هم د خلکو په خوښه صورت نیولی او د حضرت عثمان او حضرت علي ټاکنه هم په څرګند ډول صورت نیولی دی چې په اسلامي سیاست نومي کتاب کې په دې اړه بشپړ رڼا اچول شوې ده.

د پورتني لیکنې نه دا ترلاسه شوه چې د اسلام په سپیڅلي دین کې د هېواد د امیر یا ولسمشر د ټاکلو حق په قطعي ډول دهغه هېواد اوسیدونکو ته حاصل دی. لهذا د افغانستان مسلمانانو ته پکار دي چې د خپل هېواد د زعیم د ټاکلو لپاره د رایو صندوقونو ته لاړ شي او داسې شخص دې غوره کړي چې د مشرۍ کوم کارونه ورته سپارل کېږي دهغوی د ادا کولو پوره وړتیا ولري او د اسلام د سپیڅلي نظام د نافذولو او د هېواد د استقلال او پرمختګ لپاره عملي ګامونه پورته کړي.

له ډاډمن امنیت پرته رڼې ټاکنې نشي کیدلې

نصرالله

په ټول هېواد کې به د افغانستان وګړي هله د رایو صندوقونو ته په آرامه زړه لاړ شي چې د ټاکنو په ټولو ساحو کې ډاډمن امنیت ټینګ شي. که څه هم د داخله وزارت د منسوبینو له لورې څو څو ځلي د بشپړ امنیت ډاډ ورکول شوی؛ خو که حقیقت ته وکتل شي، نو اوس هم امنیتي حالت د ډاډ وړ نه دی، په ځانګړې ډول په هرات ولایت کې چې څو اونۍ وړاندې پر ښاغلي اسماعیل خان او دوه ورځې مخکې د ښاغلي عبدالله عبدالله پر ساتونکو کوم مرګوني بریدونه وشول خلک یې خورا ډېر اندیښمن کړي دي او هر څوک دا پوښتنه کوي چې که د هرات په څیر ولایت کې چې په نسبي ډول د ښه امنیت له نعمته برخمن دی داسې پیښې ترسره کیدلی شي؛ نو په نورو ولایتونو کې به د ډاډمن امنیت باور څنګه وکړی شي؟! له څه شک پرته ښې ټاکنې او د خلکو ښه حضور به هله یقیني شي چې خلکو ته د بشپړ امنیت ډاډ ترلاسه شي مګر په هرات او کابل کې د کمپاین له لومړۍ ورځې نه د ترهګریزو حملو له کبله حکومت د ولس د اعتماد په ترلاسه کولو کې په مطلق ډول پاتې راغلی دی، او دا اعتماد هله ترلاسه کولی شي چې له دې وروسته په انتخاباتي غونډو کې د دا ډول ناوړو پېښو مخه ونیول شي.

د هېواد امنیتي ځواکونه دې په دې واقعیت پوه شي چې مخالفین د انتخاباتو د ګډوډولو چانس په هېڅصورت له لاسه نه ورکوي او تر آخرې توانه کوښښ کوي چې د انتخاباتو د ترسره کېدو مخه ونیسي، که چېرته حکومت واقعاً په هېواد کې د خلکو په پراخ ګډون عادلانه او آزادانه انتخابات ترسره کول غواړي؛ نو رای ورکوونکو ته د امن فضا برابرول د آزادو او رڼو ټاکنو لپاره د ملا د تیر حیثیت لري، تر څو پورې چې د ډاډمن امنیت ضمانت نه وي ورکول شوی د آزادو او رڼو ټاکنو د ترسره کېدو ډاډ ورکول هېڅ اصل نه لري. افغانستان یوازې د ښارونو نوم نه دی؛ بلکې د ښارونو څخه دباندې هم د میلیونو په شمار افغانان اوسېږي، مګر له بده مرغه د ښار نه څو کیلومتر لرې ساحو کې مخالفین دومره فعاله دي چې د ټاکنو مرکزونه په جدي ډول له خطر او ګواښ سره مخامخولی شي. مخالفین په ډېرو ځایونو کې ښه ښکاره او په ځینو ځایونو کې تر زمکې لاندې پټ فعالیتونه کوي، تر څو پورې چې ددغو پټو مخالفینو څراغ ونه لګول شي د ټاکنو د مرکزونو او رای اچونکو د سرونو د حفاظت ضمانت نشي کیدلې. لهذا پکار ده چې له وړاندېنه په کور او کلي کې د پټو مخالفینو د تخریبي کړنو د مخنیوی لپاره جدي ګامونه پورته کړی شي.

ښه به دا وي چې دولت او استخباراتي کړی د سرسري معلوماتو پرځای پر ژورو معلوماتو تمرکز وکړي هر ځای او هره ساحه ښه مطالعه کړي او دهغه د ساتنې لپاره قوي تدابیر په کار واچوي تر څو د ټاکنو په ورځ داسې حالت رامنځ ته نشي چې په زیاترو سیمو کې د رایو د مرکزونو امنیت خراب او رای اچوونکي د خپلو رایو له کارولو نه پاتې، او په دې توګه افغانستان له یو بل بحران سره لاس او ګریوان شي چې افغانان یې نور د زغملو توان نه لري.

د افغانستان غیرتي ولس ته هم پکار ده چې په ټولټاکنو کې په پوره شوق او ذوق ګډون وکړي او له احتمالي تاوتریخوالی نه د ویرې پرځای د خپلو قانوني رایو د استعمال لپاره د رایو صندوقونو ته لاړ شي، له امنیتي ځواکونو سره د امنیت په ټینګولو کې مرسته وکړي او د ټولټاکنې پروسه د برې پولو ته ورسوي تر څو د افغانستان وګړي د یو منتخب ولسمشر په ټاکلو کې بریالی او نړۍ ته دا ثابته کړي چې د افغانستان وګړي قانوني ټولټاکنو ته څومره د قدر او قیمت په سترګو ګوري.

که الله مه کړه په دې حساسو شرایطو کې د ټاکنو دا پروسه مختله شي؛ نو افغانان به له جدي ګواښ سره مخامخ شي، زمونږ د هېواد دښمنان به نور هم په افغانستان کې د لاسوهنې قوي جرئت پیدا کړي؛ خو که د ټولټاکنو دا پروسه په بریالی ډول پای ته ورسېږي، نو دا به د افغانستان د دښمنانو لپاره ملا ماتوونکی ګوزار او افغانانو ته د ویاړ وړتیا بنسټ وي.

شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چي د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسي اصلاح کړي چي د لیکني اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - بوازي سرلیکنه د شهادت د اونیزی رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

بارش برف باعث توقف صادرات و واردات در بندر حیرتان شده است

کابل، رساله ها:
مسوولان در بندر تجارتی حیرتان می گویند که از سه روز به این طرف صادرات و واردات از طریق این بندر تجارتی متوقف گردیده است.
از دو روز به این طرف اکثر ولایات شمالی افغانستان شاهد بارش برف سنگین بوده اما در کنار سردی و ایجاد مشکلات متعدد برای ساکنان این ولایات، این بار مسوولان شهرک بندری حیرتان در بلخ می گویند که به اثر ریزش برف سنگین راه ها به این شهرک مسدود شده و سیستم برق این بندر تجارتی قطع گردیده ا[ست].
قاضی نجیب رییس شهرک بندری حیرتان در صحبت با رادیو آزادی گفت، از دو روز به این سو راه ها مسدود شده و ۵۰ درصد از کارمندان شان به سر کار حاضر شده نتوانسته اند.
وی افزود که قطع جریان برق و نبود پرسونل باعث شده است تا واردات و صادرات از طریق این بندر توقف یابد وی در مورد به رادیو آزادی گفت:
((سه روز می شود برق نداریم و راه ها هم مسدود است، سرویس های ما از مزار میاید و تا اکنون نه آمده است. کار های ما از سبود کارمند با ۵۰ فیصد رکود مواجه شده است. چون کرین ها برقی اند نتوانسته اند مواد وارد شده را تخلیه کنند.))
وی گفت اگر وضعیت نبود برق و مسدود بودن راه ها و عدم واردات و صادرات از این بندر به همین گونه ادامه پیدا بکنند افغانستان به زودی شاهد میلیون ها افغانی زیان خواهد بود.

کشور به اصلاحات و همگرایی ...

برای جوانان، صحت، ایجادزمینه برای برگشت مهاجرین، ایجاد روابط با احترام متقابل وتعریف شده با جامعه جهانی واقتصاد را از برنامه های مهم تیم انتخاباتی خود بر شمرد.
این نامزد ریاست جمهوری علاوه کرد: "تیم انتخاباتی ما عنوانش اصلاحات وهمگرایی است و این نام بخاطری برگزیده شده که کشور ما ضرورت به همگرایی واصلاحات دارد."
انجنیرمحمد خان معاون اول داکتر عبدالله، برانتقال قدرت به شکل مسالمت آمیز تاکید کرده، گفت که اگر در انتخابات پیش رو، از سوی حکومت وحلقات داخلی وخارجی مداخله نشود، نتایج آنرا هر گونه که باشد تایید مینمایند.
وی که معاون حزب اسلامی نیز است، از کمیسیون مستقل انتخابات، حکومت وخارجی ها خواست که اعتماد مردم را بر انتخابات از بین نبرده و بگذارند که مردم به خواست خود به نامزد مورد علاقه خود رای بدهند تا قدرت به شکل مسالمت آمیزانتقال یابد که این کار؛ به نفع جامعه جهانی، منطقه وکشور میباشد.
محمدمحقق معاون دوم داکترعبدالله، با انتقاد از عملکردحکومت گفت که کشور درحال حاضر در بخشهای امنیت، اقتصاد وعرصه های دیگر، در جایگاهی قرار دارد که ۱۳ سال قبل قرار داشت.
وی، علت این ناکامی را مدنظرنگرفتن خواست مردم ازسوی حکومت خواند و افزود که درصورت برنده شدن درانتخابات، بعضی سنت ها را حفظ نموده؛ اما بسیاری از مسایل تغیر خواهد کرد.
محقق افزود: "ما سنت کاخ نشینی و محاصره شدن در ارگ، سنت از کاخ تا خیمهٔ لویه جرگه از طریق هلیکوپتر، خبر نگرفتن از ولایات و بی خبری از قراردادها و دزدی های میلیونی را تغیر میدهیم؛ اما سنت همراهی با مردم، بیرون شدن از کاخ و حضور مستقیم را دنبال خواهیم کرد."
صلاح الدین ربانی رییس جمعیت اسلامی و عضو تیم انتخاباتی داکتر عبدالله، از مردم خواست تا به جریانی رای بدهند که در بین مردم پایه مردمی داشته باشد.
اما وی افزود که به قدرت رسیدن از طریق غیرمشروع، برگرداندن کشور به وضعیتی خواهدبود که مردم تحمل آنرا نخواهند داشت.

سپنتا ګمارل شوي څو له ناټو سره ...

د امنیتي تړون په اړه د خبرو اترو جزییات د ملي امنیت شورا غونډې ته وړاندې کړل.
صفت الله صحاف ساپي ازادي راډیو ته وویل، ولسمشرحامد کرزي د ملي امنیت شورا په غونډه کي د ملي امنیت سلاکار ته دنده ورکړه چي د ناټو له چارواکو سره په دې اړه خبرو ته دوام ورکړي.
ولسمشرحامد کرزي چي له امریکا سره د ورته سند له لاسلیک څخه ډډه کړې وايي، امریکا باید په افغانستان کي د سولي د هڅو د بریا او په را روانو انتخاباتو کې د نه لاس وهنې ډاډ ورکړي.
د کابل او واشنګټن ترمنځ د امنیتي تړون د لاسلیک په وړاندې پر دې سربېره د شپې د عملیاتو په څېر نور ګڼ خنډونه هم پراته دي خو ایا له ناټو سره چې د امریکا ترڅنګ په افغانستان کې پوځي حضور لري او د وسله والو طالبانو پر ضد عملیات کوي هم ورته اختلافونه شته؟
افغان حکومت له څه مودې راهیسې هم له ناټو او هم له امریکا سره د امنیتي تړون په اړه خبرې اترې پیل کړې.
په داسې حال کې چې امریکا د ناټو مشري کوي او ډېره برخه پوځي ځواک او لګښتونه ورته برابروي له ناټو سره د امنیتي همکاریو تړون په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو حضور ته هم لاره اوارولای شي.
افغان چارواکو که څه هم ډاډ څرګند کړی چې د کابل او واشنګټن ترمنځ امنیتي تړون ښایي لاسلیک شي خو د دې تړون د لاسلیک د نېټې په اړه یې په رسمي ډول تراوسه څه نه دي ویلي.

ډېر ترل شوي ښوونځي بیرته ...

د دوشنبې په ورځ (۲۰۱۳ کال د فیبروري ۳مه) په کابل کې په یوه خبري غونډه کې وویل؛ "تر ۸۰۰ زیات ښوونځي پرانیستل شوي دي. څه موده تر مخه د زابل ولایت سیمین وېرو زمنه وکړه چې ترل شوي ښوونځي به بیا پرانیزي او موږ به په دغه ولایت کې د ترل شوو ښوونځیو شمېر راکم کړو. موږ به په نوي لمریز کال کې په دې اړه د خوښۍ خبرونه ولرو."
خو یوازې د ښوونځیو ترل کېدل د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت پر وړاندې یوازنۍ چلینج نه دی. خلک د ښوونکو د کښتې سویې، د درسي کتابونو او د ښوونځیو له کموالي څخه هم شکایت کوي.
د لوګر ولایت یو اوسیدونکی چې عبدالحسیب نومېږي وايي چې د دوی په سیمه کې ښوونځي نه دي ترل شوي، خو معارف وزارت له نورو ستونزو څخه کړېږي؛ "یو داسې معلم درس ور کوي، چې تر شپږم ټولګي یې ښوونځی لوستی دی. داسې کسان معلمان دي، چې اصلاً د معلمی لیاقت نه لري."
دولس کاله دمخه او د طالبانو د واکمنۍ پر مهال په افغانستان کې ښوونځي ترل شوي ول او یا یې په اصطلاح د فلج په نیمه حالت کې فعالیت کاوه، خو په تېرو دولسو کلونو کې د افغانستان په معارف کې د پام وړ بدلونونه راغلي دي. په اوس وخت کې تر لس میلیونه زیات افغان ماشومان ښوونځیو ته ځي او ۲۱۱ زره معلمین په ښوونځیو کې تدرس ورکوي.
د افغانستان د معارف وزارت تازه ارقام ښیي چې ۳۸ سلنه افغانان با سواده شوي دي.
په دغه موده کې د ښوونځیو د ودانیو جوړول، د درسي کتابونو چاپول او د معلمینو د ظرفیت لوړولو د ښوونځیو وضعیت ته بدلون ور کړی دی. د کابل ښار یو تن اوسیدونکی قربان، چې دوه کاله دمخه له دولسم ټولګي څخه فارغه شوی دی وايي: "که همغږي په نظر کې ونیسو، ډېر ښه والی پکښې رامنځ ته شوی دی، خو دوه کاله تر مخه چې زه له ښوونځي څخه فارغ شوم، درسي نصاب د پخوانیو کلونو په پرتله د شاګردانو له پاره ډېر مؤثره دی."
په همدې حال کې د معارف وزارت وايي چې د ولسمشریزو ټاکنو نوماندان نه شي کولای په ښوونځیو کې ټاکنیز کمپاینونه ترسره کړي. د دغه وزارت د چارواکو د وینا له مخې د قانون له مخې، معلمین نه شي کولای په ښوونځیو کې د جمهوري ریاست د نوماندانو له پاره کمپاین وکړي.
ښاغلي حقمل په خپلو خبرو کې وړاندې وویل چې یوازې د ټاکنو په ورځ ښوونځي د ټاکنو کمېسیون په اختیار کې ورکول کېږي؛ "هیڅوک له ښوونځیو څخه د استفادې اجازه نه لري. په هر هیواد کې د ټاکنو په ورځ له ښوونځیو څخه استفاده کېږي، ځکه چې دا یوه ملي پروسه ده."
د معارف وزارت ویاند پر دې خبره ټینګار وکړ چې هغه ښوونکي او زده کوونکي چې په شرایطو پوره وي، د خپلې خوښې نوماندانو ته رایې ورکولای شي، خو په وینا یې له ښوونځیو څخه دې د ټاکنیزو کمپاینونو د مرکزونو جوړولو څخه ډډه وکړي.

په افغانستان کې زموږ په اوبو ...

واشنګټن پوست وړاندې لیکي، طالبانو چې د انتخاباتو مخکینۍ پروسې یې د حملو لپاره هدف ګرځولې وې، بیا ګواښ کړی چې د دغو انتخاباتو پروسه به هم ګډوډه کړي.
د ورځپاڼې له مطلب سره سم د افغانستان راتلونکی ولسمشر به له یو شمېر عمده ستونزو سره مخامخ وي:
له طالبانو سره خبرې، له اداري فساد سره مبارزه او په افغانستان کې د یوه اغیزمن حکومت جوړول.
شیکاګو ټربیون ورځپاڼې په افغانستان کې زموږ په اوبو لاهو شوي هڅې، تر سرلیک لاندې یو مطلب خپور کړی. لیکوال د امریکا د متحدو ایالتونو پر ضد د ولسمشر کرزي وروستیو تندو تیزو څرګندونو ته په اشاره لیکي، کرزي په تېره یوه میاشت کې امریکا په هغه څه ملامته کړه چې نه یې دي کړي.
د لیکوال په باور ولسمشر کرزي له غصې ډکو څرګندونو احساساتي غیر منطقي خبرو ته مخه کړې ده.
شیکاګو تریبون وړاندې لیکي، ولسمشر کرزي تیره اونۍ د امریکا د دفاع وزیر چک هیګل په داسې حال کې هرکلی وکړ چې امریکا یې په ښکاره له طالبانو سره په هغې حمله کې په مرستې تورنه کړه چې اولس تنه په کې ووژل شول.
د شیکاګو تریبون په وینا ولسمشر کرزي دغه راز متحده ایالات تورن کړ چې د افغان امنیتي ځواکونو پر ضد د سخت دریځو وسله والو په بډه حملو کې لاس لري.
د مطلب لیکوال په پای کې دې نتیجې ته رسیدلی چې دا باید ومنل شي چې داسې څه هم شته چې حتی د نړۍ یواځنی لوی قدرت یې هم نشي سمولی او د افغانستان جوړول هم له همدې ډلې دي.